# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

احمد شاه وردک- افغانستان
۰۹ اپریل ۲۰۱۳

عیاری ازدیاری دور ازانظاری ملنگ واری چون دژاستواری با توکل په کرداری رحم داری، و دعای عیاران سرشاری درپهلوی کاری ازشهرشهریاری چو صفاری(۱) پی کار بس دشواری ، رونده درریگزاری با امید تمنائی از غفاری تافقیران را باشد یاری ، کورسازد چشم اغیاری ، رسد به مهد تمدن کهن سالی ، کمر بسته به این کاری ، که یاری کند عیاری با عیاری، تاباشد میهن را رستگاری، بلی گویدبه عیاری ازشاهی زابحاری، که زیبا کردیدکاری. کمر بسته شبی تاری ، به گردان سطری زعیاری ، برای خیلی از عیاری، تا باشد پنداری وهوشداری، تانشوند دیگر شکاری زاغیاری، جانفشانی کنند به کاری، که غمخوارباشد به خیلی از ناچاری، عیاری ز دیاری در بمباری زاغیاری، درخدمت وطنداری ، پشتوسازد هرگفتاری زعیاری باوفای به دیاری دلیران عزا داری، با مادر سوگواری وداغداری با صفای دوامداری، ارسال داربه عیاری پایداری ، چولایق دیدند که شود روزی به کاری تا باشد یک مشتی آهنین به اغیاری فریب کاری ، با تصرف کاملداری در اصلاح هرگفتاری ، شود نشر درکلکین وطنداری وفاداری .

عیار سیاست می کند ولی صداقت را فراموش نمی کند، پشت لقمهٔ تیار و چرب زیر فرمان بیگانگان بی غیرتانه نمی گردد، مردانه وار به معرکه می رود.

(اللهم احفظنا بفضلک وکرمک! یا ارحم الراحمین ویا خیر الحافظین، احفظنا احفظنا احفظنا! آمین یارب العلمین وصلی الله تعالی علی خیر خلقه ونور عرشه وزینت فرشه افضل الانبیا ء ومرسلین، حبیبنا وسیدنا وسندنا وشفیع نا ومولانا محمد وعلی آله واهل بیته واصاحبه وامته اجمعین الی یوم الدین، برحمتک یا ارحم الراحمین ویا اکرم الاکرمین!

## عیار سیاست کوی !

عیار سیاست کوی ولی صداقت نه هیروی. له سیاست سره لوبی کول او دخلکو په برخلیک معامله کول دپردیو تر فرمان لاندی ، دهیواد حیثیت او ناموس ته نه جبرانیدونکی زیان بولی. عیار نور له هغه حالته راوتلی چی دځینوپه شان فرصتونه وشمیری، چی ګواکی بخت به له چا سره یاری وکړی؟؟ تر څو له یوه دسترخوانه یوه ګوله ډوډی ترلاسه کړی. دغه دریځ ځانته ننګ بولی!.

عیاران په پشـــو ولاړ توره په لاس په لاره روان
هیواد پلورونکی په شان د سوالګرو وپردوته روان
مزدوری تـــه په تـــړون دغلامی طـوق یی په غاړه

دوبا ویروس په شان دخلکو ولسونو وخپلو ته روان

څو هیــواد پلــورونــکی د ولســواکی ترنامه لاندی

څو نـور بیا په چل دشیطان دخلکو ډوکی ته روان

له سمــندرونو ها خوا دکامپلکسی پلان په پلی کولو

کور په کــور پیسی اخلی ، ولی تول جدا جدا روان

انقلابی مبارز وایی چی زه مکلفیت لرم ترڅو خپل کار ترسره کړم او که یی وړل زما پر اوږو دروندوالی وکړی؟ نو نوروته په ارزښت ورکړم، ددی لوی کار په ترسره کولو کی به یی شریک کړم.

یعنی چی دانسانی موخی ترسره کول یار او مرستندوی غواړی

**هیوادپال انقلابی مبارزوایی:**

زه دیوه متعهد انسان په توګه مسئول یم ، چی په خپل وار، دخلکو پروړاندی ځواب ورکوونکی واوسم. دجوړونی، پالنی(بنستیزاو سریز) دپرمختګ غوریدنه، په بیلو تولینزو ، سیاسی ، اقتصادی چاروکی علمی او تخنیکی لاسته راوړنی، دخپلو سوبو اوناکامیو څخه ګزارش ورکړم، له کاملی نتیجه اخیستنی وروسته که دوخت منطق دهغی دپلی کولو اجاذه ورکوله راتلونکی مسئولیتونه په غاړه اخلیږ طبعی خبره ده چی دلاری وهل دپخوا په شان په سادګی سره ترسره کیدای شی. که چیری دچارو اداره ملاحظاتو ته شاکړی، نوبیا دخلکو ښپیره د غوږ تاوولو او رټلو لپاره د وره شاته شته ده.

**عیاران ثابت دریځ لری**

دبیولزی په پایله کی په ټولنه کی درعایت وړ فرعی ملاحظات شته  چی زمونږ دخلکو لمن یی نیولی اویوموټی معامله ګر اودپردیو مزدوران دهغو په خپرولو اوپراخولو کی (دتاجک ، پښتون، نور، شیعه اوسنی) ترنامه لاندی ډیری ګټی ترلاسه کړی او لړی یی لاروانه ده..

عیاران دکړونو دداسی شکل پر وړاندی په مبارزه پورته شوی!.

عیاران په دا عقیده دی چی له پخوا  څخه بیا ترنن پوری، سیاسی نظامونه تراوسه، درسمی دولتی ستیژ څخه، دهغو په خپرولو کی ډیری خواری کړی ترڅو داسی حالت راشی چی یو څو ورځی نوری هم غوړی مړی ترلاسه کړی.

**(غوړی مړی) دتناب کړی یوپر بل پسی په غاړو کی واچوله(۱).**

دکمیو له همدی لمنی څخه دسرتیرو نیونه وشوه، شوروی اتحاد په پراخه پیمامه او دامریک متحده ایالتونه ترنورو ډیر، په دغه ښی افراطی بسترکی ګامونه پورته کړل او چپی افراط دبیک داره خولی او اوږدو بریتونو خاوندان شول. دغو سرتیر نیوونکو هریوه په خپل وار دخپلو سرتیرو په واسطه زمونږ هیواد، زمونږ خلک په خپلو منګلو کی ونیول. همداسی ده چی ټولنه( دولت تل ملت ترستونی تیر کړی)

**څه باید وشی؟**

دولت ظالم او ستمګر دی اودپردیو نښانی لری، ملت رنځور په(( ملی اومذهبی افتراقاتو)) راګیر، بیوزلی او ناتوانه دی، دظالم له منګلو څخه دخلاصون وس نلری. دخلکو دژغورلو سیاسی مخکښ په ظاهره  سلګونه اولاډیر حزبونه دیو ه غیر فعال کتونکی  په توګه یوازی دواکمن دولت آرایش ګردی، هیڅ کاره دی.

هروجدان درلودونکی انسان ښه پوه دی چې زمونږ مادی اومعنوی شتمنی لوټ شوی، خلک له راتلونکی څخه ناهیلی دی.

هرڅوک دی ته سترګی په لاره دی او دشیبې شمیری چې کله به دغه ورانه کښتی دڅومعلوملحاله اوپه پردیوترل شویو افرادوپه واسطه په ځمکه ګوازه شی ترڅو ځپل شوی ملت پکی ډوب کړی. بالاخره هیواد په شمال او سوویل وویشی(خدای نخواسته! دغلیمانو خولی دماتی شی الهی !) اودا به دلرغونی آریانا وروستی سیاسی ویش وی، شته داسی کسان چې دپردیو اربابانو په دسترخوان خوړل ورته ننک ښکاری ولی له ځپلو ګټو څخه ددفاع توان نلری. ددی مطلب په هکله په ښکاره څرګندوی دی چې عیاران په طبعی توګه ځانګړی رفتار لری او ورځنیو اړتیاو لپاره بدلون منونکی دی او په موکه عکس العمل ښکاره کوی.

۱- ۱-نن ورځ عیاران خپلی ځانګړی ګټی په ملی ګټو کی شمیری: له ګواښونو او ریسوکونو پرته اوله شخصی ګټو څخه دعامه ګټو پروړاندی له تیریدو پرته هیڅ ډول غوځښت اوجوړښت ناممکن دی، مصلحت منل او پر فردی( ځانګړو) ګټو تکیه کول ددی په معنی دی چې دفاسد حاکمیت ددوام سره مرسته کیږی.

۲- په لوبه کی دحاکمیت( واکمنی ) پروړاندی توراوسپینو ته کتل د یوازی پاته کیدو په معنی دی:

۳- تور او سپینو ته کتنه، خپل ځان مطلق اندونه، او دنورو پروړاندی ځان پردی ګڼل، مستحق بلل ، دنورو سره دنه تعامل، دشریکو ګټو پر بنسټ، داټکی په خپل ذات کی هغه عناصر دی چې زمونږ په سیاسی چاپریال کی په پراخه پیمان رواج دی، هغه عناصر چې زمونږ متحده او متشکله ټولنه یی په فرقو او قومی او مذهبی ډلو ویشلی چې هیواد به هرومرودحتمی تجزیی خواته بوزی(خدای مه کړه -لیکوال عیار) . پورتنی مفاهیم دنده راسپاری ترڅو یوګډ سنګر د نابسمانیو او ګډوډیو پر وړاندی جوړ شی..

احزاب اوډلی کولای شی چې په یوه واحد کی دټولنی په محرکه ځواک واوړی. ورانوونکی اغیزی چې تل دپردیو ځارګرو ادارو لخوا دکلونو څخه را په دی خوا په نه ستړی کیدونکی توګه پر مخ وړل شوی. دهیواد مینو شخصیتو په ترور او په زوره دعلماوو او فضلاو کډه کولوته اړایستل. په بیلابیلو مرحلوکی په ټولنه کی ددی لپاره و چې دټولنی پیوستون وپاشل شی.

ددی کړغیړنو پدید پروړاند دمبارزی لاره باید وموندل شی.

یوازی لوړ همت او شرافتمندانه تعهد غواړی ، چې ګډه ژبه جوړه شی،قومی او ژبنیو بی باوریو چې همد ا اوس یی دټولنی انسانی او ټولنیز اخلاقو شیرازه دتیزابو په شان شړولی،باید له منځه پورته شی په ځانګړی توګه ددی مطلب لپاره چې یو دبل ترڅنګ ودریږو.

**پایله:**

حالاتو په زباد ورسوله چې هیڅوک په یوازی ځان د سعودی-ایران(سنی شعیه) دجګړی دوړو او دپاکستان-هند (پشتون او تاجک) دجګړی دڅپو پر وړاند تاب راوړی.

ټولنه پاشل شوی، هیواد د تجزیی پولو ته رسیدلی، او لویدیځ هم په خپله دداسی یوی ورځی جوړونکی دی، ختیځ هم په لاس کی وړیا ورکولو لپاره څه نلری اویوازی دیوی مودی لپاره زمونږ دټولنی په پرهارونو مالګی دوړوی.

ترخو چی دټولنی رنځور بدن خپل وروستی سلګی وهی، پرته له دی چی په خپلو کړنو کی بدلون راولودهیواد دژغورلو لپاره بله لاره نه ده پاته!

په دی پوری زړه تړل چی څو کربنی دکاغذ پرمخ وکاږو اوبیا سترګی په لاره واوسوچی نور زمونږ لپاره کومی پریکړی کوی او کوم کارونه ترسره کوی، هیڅ ګټه نلری.حرکتونه دداسی وسنجول شی چی همګرایی او همنوایی(سره منل او اوسیدل)خواته چیرته چی نشته یو ؟ شتون ولرو. له دی ځایه کیدای شی یوه چیغه پورته شی، یوه واحده پریکړه کولای شی مونږ دیوی منل شوی او دباور وړ لوری په توګه واړوی.

په درناوی